## دترکیه انتریو ( پوختنی چه معلوم کړی مناسبه به وی چه بیرته دا کس ولیږو ترکیه ته )

د جون په میاشت ۲۰۲۱ کال کی یونان دپناه وزارت دا اعلان وکړ چه ترکیه د امن ملک دی ددی هیوادونو غړو ته لکه سوریه،افغانستان،سومالیا،پاکستان،او بنگلادش .
که تاسو ددغه ملک یاست او دلته په یونان کی مو پناه غوختنه کړی ده نو تاسو ته به د یونان د ولت د پناه د وزارت له خوا دترکیه انتریو در سره کوی.
دا انتریو به په داسی انداز کوی چه ستاسو مناسبت دترکیه سره سمون خوری تاسو ترکیه ته واستوی اوهلته ستاسو پناه (کیس )فیصله شی .

## دا کسان ټول په دانوی قانون کی شامل کیږی :

که تاسو د سوریه ،افغانستان،سومالیا،پاکستان او یا د بنگلادش دهیواد یاست او دلته دیونان په یو جزیره کی او یا هم دیونان په خاوره کی یاست
که ستاسو سن د ۱۵ نه پورته دی،او یا تاسو اولادونه سن د۱۵ کالو سخه پورته وی . نو به د ترکیه انتریو در سره کوی.
که تاسو سن د ۱۵ پورته خو زیر سن بی سرپرسته ماشوم یاست نو ستاسو سره به هم دا د ترکیه انترویو کوی
که تاسو تر اوسه دلته په یونان کی خپل پناه نده ثبت کری نو تاسو ته د سپین کارت د درکولو په وخت کی د ترکیه د استولو پوختنی کوی هغه کسانو چه دلته د پناه غوختنه کری ده خو لا د دیر وقت راهیسی انتریو ته انتظار دی. اوس به دوی ته اول د ترکیه انتریو ور کول کیژی.
که چیری ستاسو د پناه کیس دلته په یونان کی (رد) سوی وی او یا تاسو بیا د وریسی پناه درخواست ورکوی . نو تاسو ته به د ترکیه انتریو درکوی.

.

.

**تاسو دی پام وی و دی لاندنی خبرو ته،**

- د ترکیه انتریو تاسو ته په سرعت د ر کول کیږی یعنی کیداسی د سو ورځو په شا و خوا کی.
- د فامیل هر غړی سره به بیل انتریو کوی نو بهتره چه خبری مو سره سمون ولری.
- ستاسو ټول معلومات ریکارد موجود دی ،سه چه تاسو دلته ویلی وی د سپین کارډ د اخیستو په وخت کی او سه چه کمه خبری کوی دا به ټول سره یوځای غور پر کوی.

**دیونان دپناه وزارت ته وواياست :**

دا چه که تاسو د خپل نژدی فامیل غړی سره په اروپا کی د پیوندی کیس روان دی.
یا دا چه د دوبلین مراحل په دوران کی یاست نو باید د ترکیه انتریو در ته نکړی، په دی چه ستاسو د پناه کیس به هلته فیصله کیږی چیری چه ستاسو د فامیل غړی اوسیږی.
یا تاسو داسی خپل (خپلوان)دلته په یونان کی لری چه هغه ته دلته قبولی یا اجازه د اوسیدو ورکول سوی ده.
او یا داسی خپلوان دلته په یونان کی لری چه هغه د دغو هیوادوسخه نه دی لکه سومالیا ،افغانستان.سوریه،پاکستان او بنګلدیش.

**ا نوی قانون پر ټولو تدبیق ګیږی حتا که تاسو د زیان منونکی طبقه کسانو کی یاست، مګر تاسو خپل شرایط او مشکلات په ترکیه کی ددغو لاندی علتو په خاطر د شواهدو سره وواياست:**

- عمر مو زیات دی
- صیحی تکلیفونه لری ( د اعصابو د ناارامی په شمول)

-معیوبی
-زیر سن یاست
-مجرد والد (والده)

- حامله

**که زما د ترکیه انتریوته د یونان دولت ما ته مثبت جواب راکړی نو بیا سه کیږی.**

که تاسو ته دترکیه د انتریو بعد مثبت جواب درکړی نو هغه دا چه تاسو په ترکیه کی امن نسی درلودای او تاسو به همدا یونان کی پاته کیږی تر هغه چه ستاسو د پناه غوښتنی درخواست دلته فیصله شی.
تاسو به معطله یاست تر هغه چه تاسو ته دلته د کیس انتریو در ګړه سی.

## که زما د ترکیه انتریو ته منفی (رد)جواب راکړی دلته په یونان کی نو بیا سه کیږی.

تاسو کولای شی درخواست ورکړی ددی منفی. فیصله پر ضد د یو تکره یونانی وکیل په مرسته تر ۲۰ ورځو پوری وخت لری.
کیدای شی دیونان وزارت دا خبر تاسو ته په را بلنه وخت کی په لاس کی در کړی ،او یا دا خط په پوسته کی در واستوی او یا کمپ ته تاسو ته درولیږی.
دا ۲۰ ورځی وخت دهغه ورځی شروع کیږی چه دغه خبر تاسو ته رسمی په لاس درکړه سی.
که تاسو ته دغه خط په پوسته کی راورسیږی نو لفافه یی د سند دپاره وساتی .د هغه نیټه بعد ۲۰ ورځی وخت لری.
که ستاسو دغه درخواست بیا هم رد سی نو تاسو بهتره و محکمه ته کیس یوسی د یو تجربه کاره وکیل په مرسته.

## که زما د پناه غوښتنی درخواست دلته رد شی نو بیا سه کیږی.

که تاسو ته د ترکیه د انتریو په نتیجه کی رد جواب درکړی او بیا تاسو د هغه پر ضد درخواست ونکړی او یا دا چه درخواست مو وکړی خو هغه هم رد سو نو ر نو تاسو نسی کولای خپل د پناه کیس دلته په یونان کی مخ ته بوزی، او ستاسو سخه دا غوښتنه کیږی چه واپس شی ترکیه ته. کم مالی امداد او داستوګنی ځای که تاسو ته درګرسوی وی هغه هم دلاسه ورکوی.
قانونن کیدای شی تاسو بندی ګړی او په زور مو واپس ولیږی ترکیه ته ، مګر تر اوسه پوری معلومات نشته چه په حقیقی توګه به سه چلند. کیږی.

## د ترکیه په انتریو کی تاسو دغه لاندی ستونزی دوی ته ووایاست.

- که تاسو په ترکیه کی دا مشکلات درلود او هغه په دا خاطر وه چه مثال ملت ،نژاد،دین ،سیاسی نظر،او یا توکمیزه ډله یاست،جنس او جنسیت.
- هغه سختی چه که تاسو باندی تیری سوی وی د ترکیه د دولتی کسانو د طرفه پر بارډر (سرحد) و ترکیه ته د را داخلیدو په وخت کی،او یا د ترکیه پولیس د وهل ټکول یا بد چلند کړی وی.
- هغه ستونځی د ځان د تسلیم ګولو او د پناه امن غوښتنه کول په ترکیه کی دولتی مقاماتو ته، د ترکیه دولتی کسانو بد چلند ستاسو په مقابل کی د اسنادو په لاس ته راوړلو کی،که تاسو ته داسی رسمی کاغذونه درکړه سوی وی چه وایی د ترکیه خاوره ترک کړه او یا بندیز در ته در کړی وی.
- که ترکیه دولتی کسانو دا کوښش کړی وی چه تاسو اخراج کړی او یا پر سرحد یی تاسو ټیله کړی یاست بیرته واپسی ته، ستاسو ډار ددی نه چه دترکیه دولت به ما اخراج کړی زما وطن ته.
- هر ه هغه بند چه په تاسو باندی تیر سوی په جیل (زندان) پولیس استیشن داخراج مرکز او یا کمپ کی ستاسو ځای،خوراک،او ددوی چلند.
- ستاسو صحت ،داکتر او دوا ته نه لاس رسي د امداد کمي.
- د ژوند لازمی ضروریاتو او لازمی تداوی ته نه رسیدل.
- داسی یو مجبوری چه په تاسو باندی په زور کار وکړی (زنا) یا نور غلطه استفاده در سخه وکړی.

## دترکیه منلو وړ انتریو په داسی انداز در سره کیږی چه صرف د ترکیه په هکله خبری وګړی خو دا یادونه هم وکړی:

* چه ولی تاسو د خپل وطن راوتلی یاست د جنګ .تریخ حالت ،بد سلوک او یا دبندی کیدو ډار ( مهمه داده چه د وکیل سره وګوری مخکی د انتریو جه پوره قانونی مشوری در کړی که امکان ولری).
*دلته په یونان کی تاسو اباد یاست،

زه یا زما ماشومان په مکتب که درس وایی،زه د یونانی ژبی په ذده کړه لګیاه یم،او یا دا چه دلته زما تداوی روانه ده ،یا ستاسو سره امداد روان دی د ذهنی او روانی ناروغی له کبله.

## کیدای

## شی ستاسو سخه دا پوښتنی وشی:

- ولی مو خپل وطن پریخود ، کمو ملکو باندی را غلاست دلته یونان ته.
- تاسو سنګه پر بارډر(سرحد) را تیر سواست ایا مشکلات سره مخامخ شوی یاست.
- سومره وخت په ترکیه پاته شوی دیونان د راتګ نه مخ کی .
- ولی د ترکیه نه راووتی چه راسی یونان ته
- ایا ترکیه کی مو اسناد واخیستل.
- تاسو چیری اوسیده لاست په ترکیه کی.
- ایا تاسو کار کړی دی په ترکیه کی.او د کار کولو اجازه مو درلوده.
- ایا تاسو د فامیل غړی هلته په ترکیه کی لری.
- ایا تاسو ته مناسبه ده چه بیرته ترکیه ته ولاړشی . که تاسو وایاست نه نسم کولای نو بیا پوره وضاحت ورکړی .